بسم الله الرحمن الرحيم
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
(۸) صفحه

شش تن ازمبارزین مسلما ن الجزایري بعدازده ساعت برخوردبه شهادت رسیدند

روزدوشنبه نظامیان الجزایربرمنزلي درمنطقهٔ بلیده واقع جنوب پایتخت این کشور هجوم برده شش تن ازمردان رابه شمول دوزن مسلمان شهید کردند. به این خبر ازطرف حکومت الجزایرنیزثقه گذاشته شده است.

درخبرآمده است درین برخورده ساعته که نظامیان حکومت الجزایرازسلاحهاي ثقیله وخفیفه بالاي آنان کارگرفتندقسمتي ازمنزل به آتش کشیده شد وطبق گفتهٔ شاهدان عیني تامسافهٔ پنجاه کیلومتري منطقهٔ بلیده صداي انفجارات وفیرها بگوش مي رسید.

درخبرگفته شده که درهمین روزچهار ده تن دیگر ازمسلمانان نیز درولایت کعویهٔ الجزایر توسط نیروهاي امنیتي آنجابه شهادت رسیده اند.

په بوسنیاکی دروانو جنگونوله امله تر(۱۳۰۰۰۰) کسانوزیات خلك وژل شوی

سرایوو دمرغومي ۸ مه .

دموجوده احصایي پراساس په خبرونوکي ویل کیږي چي په بوسنیاهرزگوونیاکي دمسلمانانوپه خلاف دسربي خواؤنودوحشیانه حملو په ترځ کي چي دا(۹) میاشتي دوام لري دنوموري هیواد له خلکو څخه (۱۳۰۰۰۰) کسان وژل شوي .

همدارازیدي موده کي په سرایوویاندي لرترلره (۸) سوه زره دول دول گولي ویشتل شوي دي .

دبوسنیا هرزگوونیادکورنیوچاروو‌زارت تیره ورځ وویل چي داهغه احصایه ده چي دراپوروتوله مخي تاکل شوي مگردوژل شوو کسانو شمیر له دي نه هم زیات دي.

همداراز دغه وزارت اعلان وکړ چي په روانو جگړوکي دبوسنیا(٦٥) فیصده خلك تپیان اونور(۸) زره کسان هم معیوب شوي دي.

شماره مسلسل(۵۷۹)سال پانزدهم شماره (۱۲۵) پنجشنبه (۱۰)جدي ۱۳۷۱ هه ش (۷)رجب المرجب ۱٤۱۳هه ق ۳۱ دسمبر۱۹۹۲ م

بیه : یوه روپۍ یا(۵۰) افغاني

دحکمتیارله گډون پرته یو حکومت هم دوام نشي کولای

ویلي دي چي هغه خان صرف اوصرف مسلمان گڼي اوهم یومسلمان دټولو افغانانو دمشرۍ حق لري.
(۷)مخ

حکمتیاریوازی دپښتنونه بلکی داسلامی امت لیډردی

دجماعت اسلامي پاکستان امیر وروړقاضي حسین احمد دولي خان دهغي وینا په اړوند چي دملاوینیادپرستو سیاست پوهانو په نامه یي داسلامي گوند ونو اوامت اسلامي په خلاف کړیوه افسوس ښکاره کړي ،اوپه دي هکله یي په پیښور کي دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کي خبریالانو ته ویل چي زه ولي خان بالکل قوم پرست نه گڼم.ځکه چي ولي خان روسي دهند ، یادروس گوډاگي ؤ اواوس دامریکي ایجنت دي.

قاضي حسین احمد زیاته کړه زه ولي خان ته ددي خبري ویل ضروري گڼم چي هغه دي دخپلو خبرو انداز بدل کړي . اوبیا دي داسي خبري نکوي .

قاضي حسین احمد زیاته کړه چي ولي خان قوم پرست نه ، بلکي داول نه دپښتنودښمن دي . قاضي حسین احمد وویل چي ولي خان دیوي خوا دپښتنو ترمنځ دتقسیم دیوال دغورځولو خبري کوي خوبل اړخ ته د پښتنو مخي ته دیوالونه دروي . قاضي صاحب دولي دهغو خبرویه هکله چي دحکمتیار په خلاف یي کړي وویل : ولي خان وایي چي حکمتیار قوم پرست پښتون نه دي زه دولي خان نه تپوس کوم چي حکمتیار کله دقوم پرستي دعوي کړیده ؟

قاضي صاحب زیاته کړه چي حکمتیار خوځان دټولو افغانانو مشرگڼي اویواځي پښتنو ته نه بلکه دافغانستان ټول اوسیدونکي ولس ته افغانان ویلي شي.

همداوجه ده چي حکمتیار خوځله

برادرحکمتیاربانمایندگان ولسوالی جاجی آریوب دیدارکرد

کابل . ۷ جدي

برادرحکمتیارامیرحزب اسلامي افغانستان بابزرگان ،موسفیدان ونمایندگان ولسوالي جاجي ،ایوب پکتیا دیدار وگفتگوکرد.

طبق گزارش دفترخاص امارت حزب اسلامي خبرداده است که شام هفتم جدي برادرحکمتیار بعداز اداي نماز تعدادي ازنمایندگان موسفیدان وبزرگان جاجي آریوب رادریکي ازپایگاه هاي جهادي حزب اسلامي درچهارآسیاب جهت ملاقات بحضورپذیرفت . این دیدار که حدود دوساعت ادامه داشت پیرامون موضوعات موردتوجه طرفین بحث صورت گرفت .ملك سیدمرجان رئیس شوراي ولسوالي ،سیدعمر حاجي نظام الدین وحاجي شیراحمد در زمره دیدار کننده گان بودند.

ص (۸)

شوراي نام نهادحل وعقد تشکیل وربانی رابه حیث رئیس جمهورتعیین نمود

کابل ۹ جدي

روزسه شنبه رادیوي کابل گزارش دادکه شوراي نامنهاد حل وعقد بااشتراك ۱۳۱۵ نفرازافرادیکه رادیوي نامبرده آنها را بزرگان مردم توصیف کرد تشکیل گردید در ابتداي اجلاس رباني سخنراني نموده ودرلابلاي اجلاس استادسیاف هم سخنراني نمود ودرپایان این اجلاس که دوساعت ادامه داشت مولوي محمدشاه فضلي سخنراني نمود.

ازجمله سایر رهبران جهادي صرف استاد رباني واستادسیاف حضورداشتند.

وسایر رهبران جهادي شوري را غیرقانوني خوانده وآنراتحریم نموده اند.

شواهد واسنادي موجوداست که نشان میدهد اکثراعضاي شوراي نام نهاد حل وعقد کنوني دربدل پول هاي بي پشتوانه اي که استادرباني از روسیه واردنموده ،خریداري شده وازملت نمایندگي کرده نمیتواند. زیرا دراکثر ولایات کشور انتخابات صورت نگرفته ومردم این ولایات نماینده دراین شوري ندارند. وازبعضي

ص(۷)

همه جناحهای اسلامی، خواهان برطرفی احمدشاه مسعودشده اند

پشاور ٦ جدي

خبرنگارشهادت ازکابل گزارش میدهد که رشیددوستم ومزاري رهبرحزب وحدت دریك مکالمهٔ بي سیم موافقه کرده اندکه براي همکاري ونزدیکي این دونیرو یك هئیت نظامي از مزارشریف بکابل بیاید وازنزدیك بامسؤلین حزب وحدت مکالمه کند.

درگزارش علاوه میشودکه عبدالعلي مزاري رهبر حزب وحدت با این پیشنهاد دوستم موافقه نموده است . ازطرف دیگر اطلاع داده شده که بین انجنیر احمدشاه وزیر داخله و احمدشاه مسعود وزیر دفاع نیز اخیراً برخوردلفظي صورت گرفته است. انجنیر احمدشاه وزیر دفاع

ص(۷)

درباني شوري نه شرعي حیثیت لري اونه قانوني

دمرغومي ۹ مه:

داسلامي حزب مشر مولوي صاحب خالص په کابل کي په یوه مطبوعاتي ویناکي څرگنده کړي چي درباني شوري دمتلو نه ده اونه د ملت څخه نمایندگي کوي ، هغه زیاته کړي چي داشوري نه شرعي حیثیت لري اونه قانوني. څکه چي دادکسینون دطرحي په خلاف په پیسواخستل شویده.

مولوي صاحب داخبره هم کړي چي که کوم کسان دده دتنظیم په نامه په شوري کي برخه اخستي وي دهغه دتنظیم څخه نمایندگي نه کوي.

دیویل خبرله مخي د جبهه نجات ملي مشر حضرت صبغت الله مجددي ددي شوري په اړوند په

رباني خطرناکه لوبه شروع کړیده

یوه وینا کي ویلي چي رباني دیره خطرناکه لوبه پیل کړي اوکیداي شي دادیوي تباه کوونکي جگړي باعث شي.

همدارنگه دحزب اسلامي مجاهدامیر حکمتیاردرباني له خواددي شوري جوړیدل دملت په وړاندي درباني له خواد جگړي اعلان بللي دي.

دمجاهدملت پرضدسیاسي جگړي پیلامه

داسلامي نړي دویښتابه دخوځښتونوله کبله چي نړیوال کفریه څومره اندیښنه کي دي، ددي ښکارندویي دشیطاني ځواکونوله هغه چلندنه نه کیدي شي، چي په سرتاسري نړي کي یي پیل کړي، اودهمدغه توپان په څپوکي دعالم اسلام تشخص اوتقدس لاهوکول غواړي. په هندوستان کي دبابري جومات شهادت، دکشمیر دآزادي پخښونکي اسلامي غورځنگ بي رحمانه تکول، دبوسنیا دمسلمانانوقتل عام اوپه سوونو فلسطینیانو له خپلي خاوري شړل اوپه بي سروساماني کي يي پرېښودل دهمدغي لړي دکړي حیثیت لري، همدارازپه تاجکستان کي دکمونستانوبیااقتدار اودازبکستان دزاړه کمونیستي رژیم له خوابي هرازخبزملاترددي مانالري، چي اوس دسري امپراتوري پرځاي لویدیځ ښکیلاك داسلام اومسلمانانو په وړاندي دهردول نظام حمایت اوسر پرستي پرغاړه لري ، اولویدیځ کفرداپوخ تصمیم نیولي، چي دمستقبل دیوه متوقع ځواك په توگه داسلام پر ضدبایدخپله روانه جگړه توده وساتي، ځکه خبره نوره دي ته بیخي لنده شوي، چي هرڅوك وواېي، چي په نړي کي یوځواکفراوبل لوري اسلام دي، نوپراقتصادي کلابندي سربیره دادي گورو، چي دعراق داسلامي هیواددتجزیي لپاره هلي ځلي رواني دي، اوهمدااوس دامریکي یوي برغلگري پوځي بیړي دخلیج مخه خپله کړي ده . دنړیوال کفرددومره لوي جریان دپلي کولوپه اړوند دلویدیځ سیاسي کتونکي دخپلو تبصروپه ترځ کي دغه متجاوزشیطاني ځواکونه لاپسي تشجیع کوي، اودبیلگي په ډول دبابري جومات دشهادت په هلکه دانگلستان دیوي مشهوري خپروني طراح اومبصر لیکي، چي پدي هلکه داسلامي نړي عکس العمل ډیرسوړ، اوپدي توگه نتیجه گیري کوي،چي اسلامي نړي په یوډول سیاسي اواقتصادي تسمم مسمومه کړي شوي ښکاري . نوداسلام اومسلمانانوپرضددنړیوال کفرددومره ستري پلان گذاري په ترځ کي زموږستوزي اومسایل هم غوره ورځني اهمیت لري، چي پرنظریاتي اوعقیدوي متري سربیره دافغانستان جغرافیایي نقش هم ددي جوگه دي، چي پدي حساسوپرخلیك تاکونکو شیبوکي بایدخامخا دنړیوال کفرترژوري خارني لاندې وي .

اوکه داسي نه وي، نو درباني غوندي دیوه داسي شخص نه چي په څوارلس کلن جهادکي دجمعیت دتحرك اوانقلابیت ددعوسره سره په اعتدال پالني مشهورؤ، دداسي اسلامي اوملي ضدوگامونو

(۷)مخ

ادارهٔ ائتلافي ملیاردهاافغاني ازسرمایهٔ ملي کشوررا درفعالیت هاي انتخاباتي حیف ومیل نموده است

ص(٦)

نجیب پاکستان ته له راتلوڅخه معذرت وغوښت

مشرق : دباخبرو ذرایعو وینا ده چي دپاکستان نیشنل ملي گوند مشرانو پدي وروستیو ورځوکي دافغانستان پخواني جمهور رئیس داکترنجیب ته چي اوس دمزارشریف په نامعلوم ځاي کي ژوند کوي دبیسیم په ذریعه په مسلسل ډول خپله رابطه ټینگه کړي ده او دنیشنل ملي گوند یومشر داکترنجیب ته بلنه ورکړي ده چي پاکستان ته راشي ولي داکترنجیب في الحال پاکستان ته له راتلوڅخه معذرت څرگندکړي دي.

خبرځاي لیکي : پدي څو

(۸)مخ

دمصردجماعت اسلامی مشر ددغه هیوادرژیم غیرقانونی وباله

قاهره :دمرغومي ٦ نیټه.

دمصر دجماعت اسلامي مشر ددغه هیواد اوسني رژیم اسلامي ضد وباله

اوداسلام دمقدس شریعت پیرو عالمان یي په مصر کي دیو واقعي اسلامي حکومت جوړولو ته راوبلل.

ده دعربانو اواسرائیلو ترمنځ په تامه سولي مذاکري په کلکه وغندلي او وي ویل چي دغه مذاکري داسلامي اوعربي ولسونو په نسبت پوډول سپکاوي دی.

رباني دي قدرت قیادي شوري ته وسپاري

داهل حل وعقدله شوری څخه دی صرف نظروشي

دحرکت انقلاب اسلامي امیر مولوي محمدنبي محمدي تیره ورځ له امریکا غږ سره په مرکه کي وویل چي دافغانستان دستونزي حل په دي کي دي چي رباني قدرت قیادي شوري ته وسپاري اوهغه داکار په گډدول په مخ بوځي اوله دي پرته که یوتن ته واك وسپارل شي، نور ورسره همکاري نه کوي اوداپرته له رسوایي څخه بله گټه نه لري ، زه هم په همدي خاطر سره له دي چي زیاتو مشرانو ، داخلي اوبهرنیو ملکونو راباندي فشار راوړي ولي زه دریاست جمهوري مسؤلیت ته چمتو نه یم ، څکه یوهمکاري اعتماد په چا نه لرم اویل ناوړغ یم .مولوي صاحب وویل پکار ده چي داهل حل وعقد له شوري څخه اوس صرف نظروشي.

څکه چي داشوري متنازع فیه ده

(۸)مخ

رباني درپنج ماه "۹" هزارملیون افغانی برداشت کرده است

میزان برداشت شخصي نجیب ازبانک مرکزی سالانه "٦" هزارملیون افغانی بود

پشاور ۷ جدي

خبرنگار شهادت به نقل ازمنابع موثق جهادي مینویسد که درپنجماه گذشته مبلغ (۹) هزارملیون افغاني به امریه هاي مختلف استاد رباني رئیس اداره ائتلافي از"دافغانستان بانك" خارج شده است ، منبع میگوید طبق اسنادي که دربانك مرکزي موجوداست میزان برداشت نجیب رهبر رژیم ملحد درسال حداعظم از (٦) هزارملیون افغاني بالاترفته بود.

منبع میگوید درین اواخر رباني فیصله کرده بود تا نوټهاي تازه که از روسیه ارسال میشود مستقیم به ارگ برسد. همین پولهابود که مصارف شوراي به اصطلاح حل وعقد رباني وخریداري نمایندگان ازآن کارگرفته شد . حساب (۹)

ص (۸)

عام خلك له دغه ائتلافی اداری نه سخته کرکه لری

قوماندان محمد علم

ص ٦

سخن روز

داستاد رباني بنکاره تيري

محمدخليل

کله چي داستادرباني ځلورمياشتني عبوري اقتدار پاي ته ورسيد نوقيادي شوري دده داقتدارموده پنځه ځلوېښت ورځي نوره هم اوږده کړه، اوداقيصله ئي وکړه چي دتاکلي مودي له پوره کولو وروسته به استادرباني ديوي ورځي له پاره هم په اقتدارکي پاتي نشي ،اواقتداربه قيادي شوري ته سپاري . استادرباني په دي پنځه ځلوېښتواضافي ورځوکي هم ونه توانيدچي بورښتوني اودولس دباوروړاهل حل وعقد شوري جوړه کړي دځلورومياشتوپه ځيرداپنځه ځلوېښت ورځي هم په سازشونواوغيرضروري کارونوکي تيري کړي اوپه همدي ترتيب دده داقتدارموده سرته ورسيده. پکارخوداوچي استاددقيادي شوري دفيصلي سره سم له اقتدارنه پخپله خوښه لاس اخستي واي اوټول اختيارات يي قيادي شوري ته سپارلي واي ليکن له بده مرغه استاددقيادي شوري فيصله اوپريکړه پايمال کړه اوپخپله کړي وعده ونه دريد. اقتدارئي پخپل لاس کي وساته ، اواعلان ئي وکړ چي زه ترهغه واك اواقتدارنه پريږدم ترڅوچي مي داهل حل وعقدشوري نه وي جوړه کړي اوهغه راتلونکي جمهوررئيس نه وي انتخاب کړي . که څه هم دځلورومياشتوپه حکومت کي داستادرباني په کړووړوشکونه اواندېښني منځ ته راغلي دي خودپنځه ځلوېښتوورځوله ختميدونه وروسته داستاد انکاراوبي ځاي ضد دخلکوشکونه په يقين بدل کړل اوهرچاپه ډاګه وويل چي داستادنيت سم اوصفانه دي هغه نه غواړي چي دامن اوقانون په فضاکي داهل حل وعقدشوراي جوړه شي اودمسلمان ولس په خوښه دافغانستان راتلونکي زعيم اومشروټاکلي شي. ټولوجهادي مشرانوداستادرباني دبي ځايه دريځ مخالفت وکړاوپه ډاګه ئي وويل چي موږدتش په نامه داهل حل وعقدشوري نه منو، رباني دي بايد اقتدارقيادي شوري ته وسپاري اوياخپل مرستيال مولوي صاحب محمدنبي محمدي دي پرخپل ځاي وټاکي اوکه داسي هم نه کوي نوبيادي بي يوثالث سړي ته حواله کړي ، خواستادرباني دنه منم په غوندي کيښناست اوهيڅ چاته بي غوږکيښنبود، هماغه ئي وکړل چي دده زړه غوښتل تش په نامه قلابي شوراني دايره کړه ترڅو له دي لاري نه خپل مقصداومرام ترلاسه کړي، خوحقيقت دادي چي استادپدي کاردافغانستان مسلمان ولس نه شي قانع کولي اونه ئي مرسته اوتائيد ترلاسه کولي شي بلکي لاپسي دخلکوقهراوغضب ځانته جلبوي ، پدي کي هيڅ شك نشته چي دافغانستان مجاهداوغيرتي ولس داستادرباني بي ځاي ضداونارواادريځ قهرجن اوغمجن کړيدي اوهرڅوك داپه ډاګه وايي چي استادرباني نه دافغانستان دمسلمان ولس غمخواردي اونه دملت دساليت اواستحکام څه پروالري بلکي دخپل اقتدارليوني دي او غواړي چي په هرترتيب وي په اقتدارکي دي پاتي شي . استادرباني دخلکوله دغه الزام نه ځان نه شي بري کولي داځکه چي هغه پخپل لاس دداسي بنکاره جرم مرتکب شويدي دي چي هيڅ تأويل ئي نه شي کيداي .

داستادرباني داضدچي بايد داهل حل وعقد شوري دده ترقيادت اونظرلادي دايره شي ددي خبري غمازي کوي چي هغه هرڅه دخپلي ګټي لپاره استعمالول غواړي اوکه داسي نه وي نوبيا ولي اقتدار قيادي شوري ته نه حواله کوي؟ ولي په غيرقانوني اوناروا توګه داقتدارپه کرسي ناست دي؟ ولي پدي خبره ټينګارکوي چي دتش په نامه داهل حل وعقد شوري دي دده په اقتدارکي جوړه شي؟ داداسي پوښتني دي چي ددي ځواب له دي نه بل نه شي کيداي چي استاد رباني په زړه کي غل دي اوپه نارواتوګه په اقتدارکي پاتي کيدل غواړي . پدي کي هيڅ شك نشته چي دافغانستان موجوده لانجه په چل ، فريب اوسازشونو نه شي ختميداي ، دي لپاره پراصولومبني يوعادلانه دريځ پکاردي، که چيري په سازشونو، جنګونو اوررشوتونو دالانجي غوڅيدي نودنجيب به داانجام نه ؤ. استادته پکاردي چي له تيرتاريخ نه عبرت واخلي اوپه نارواتوګه په اقتدار کي دپاتي کيدو هلي ځلي ونه کړي . ددي خبري ضرورت دي چي دټولو جهادي مشرانو په رضا اوخوښه داسي حکومت جوړکړاي شي چي دټولو مرسته ورته حاصله وي اوپه يوه اتفاق داسلام سرلوړي اودهيواد داستحکام لپاره کاروکړي شي .

که استادرباني په رښتياسره اسلام اومسلمانانوسره مينه لري اوغواړي چي دخلکو ويني توبي نه شي نوبياورته پکاردي چي اقتدارنه لاس واخلي اودقيادي شوري له فيصلي سره سم خپل واك اواختيارقيادي شوري ته حواله کړي داځکه چي له دي نه پرته په بل هيڅ ډول دجنګ مخنيوي نه شي کيداي .

خداي (ج) مکره که استادله خپل غلط اونارواادريځ نه لاس وانخلي نودافغانستان کړيدلي اوزړيدلي ولس به دپخواپښان دولړي، تندي، جنګ اوجهالت په سيلاب کي ګډشي چي مسئوليت به ئي داستاداودهغه دملګروپرغاړه وي. ښکاره خبره ده چي که چيري استادله خپل ضداوناروادريځ نه لاس وانخلي اوپه غيرقانوني توګه په اقتدارقبضه وکړي نومعني به ئي دنوروتنظيمونواومجاهدينوسره دجنګ اعلان وي او بيابه استاددي شکايت حق ونه لري چي ولي دحکومت په خلاف راپاڅيدلي مجاهدولس باغي اوظالم دي ځکه چي دمخکي پشان داخلي هم دجنګ اوجدل لپاره پخپله استادسبنه ډبولي ده اوپه ښکاره توګه ئي له خپل لوري نه دتيري او تجاوز لاره برانستي اونوروتنظيمونوته بي په علني توګه دجنګ دعوت ورکړي دي .

شوراي حل وعقد وآينده مبهم کشور

ذبيح الله "قريشي"

شيوه يي راکه جمعيت اسلامي غرض استمرار قدرت و قانونيت بخشيدن نظام خويش، ازطريق دايرنمودن شوراي حل وعقد برگزيده است ، ازنظرصاحب نظران ووطن دوستان چيزفهم ما، راه معقول واصولي ايکه حلال مشکلات جاري باشد ، شناخته شده نمي تواند .

گرچه درتاريخ کشورماګاهي چنين پيش آمده است که بعضي ا ز سردمداران توانسته اندباتدويرجرگه هاومجالس نمايشي، به عمرنظام خويش افزوده وبه حکومت خويش صبغه قانوني بخشند ولي تاريخ يك ونيم دهه اخيرکشورکه دهه خون وشهادت وقيام وبيداري امت خوانده مي شوداين تزويراربابان قدرت را کاملاً ازجبين تاريخ کشورشست وبه جرگه هاي فرمايشي يکسره خط بطلان کشيد. وملت جرگه هاي داود، ترکي، ببرك ، ونجيب راکه غرض استمرارقدرت وقانوني جلودادن نظام هاي خويش تدويرنموده بودند درامهٔ مضحك آورخواندوبه ضدنظامهاي نام نهاد قيام نظامي صورت گرفت و روزتاروزسرتاسري گرديده وجبهه ضدنظام هاي استبدادي وکفري داغترگرديده رفت و مبارزه تاآنجاپيش رفت که برج وباره نظام هاي خودکامه فروريخت ودست تجاوزگران کمونيست از دامان وطن کوتاه گرديد .وقت آن بودکه بانابودي نظامهاي کمونستي ملت نفس آرام ميکشيدوثمره قرباني وايثارگري هاي خويش رامي چيدومطابق اراده وخواست خودسرنوشت آينده خويش راآزادانه رقم ميزدوصاحب ارادهٔ خويش ميگرديد .

ديگرزمجمرخون وآتش شناتبکرد و درودوباروت وپارچه هاي آتش نمي سوخت وبه سوي آينده نامعلوم وتاريك خيره نمي شدولي حيف که چنين نشد وسلسله کشتار وويرانګري هاخاتمه نيافت وملت ثمره قرباني هايش رانه چشيدوهنوزازګليم ماتم برنه خاسته بودکه برسوګ عزيزان ديګرنشست واين سلسله همواره جاري است .

اګرچه ګمان ميرفت که باروي کارآمدن استادرباني حداقل سلسله کشتارها اختتام يافته ووراه حل اصولي مشکل جستجوګرددولي متاسفانه درين دور خانه جنګي هاآغازشدوجنګ تاجك وپشتون وهزاره وازبك ، پنجشيري وباميانی وپغماني وفراهي وکوهستاني وقندهاري شدت ګرفت و کوچه کوچه کابل به سنګرنظامي مبدل ګرديده وعلاوه ازدوابردولتي خانه هاي مردم طعمه حريق شدوبدين ترتيب شيرازهٔ وحدت ملي ازهمپاشيد. وګامي درراه حل مشکلات کشوربرداشته نشد.

درين بحبوحه اکثريت اعضاي کميسيون تدويرشوراي حل وعقدکه ازطرف شوراي قيادي توظيف ګرديده بودتانماينده هارابه شوراي متذکره که قراربودجانشين استادرباني ، ازطريق آن شورا (حل وعقد) تعين ګردد ازسراسرکشورګردآورند، علاوه ازآنکه وضع جاري راغرض دايرنمودن شوري صالح نه شمردندٔ جمعيت اسلامي رامتهم به کارشکني وخيانت درين امر مهم نموده ازشوراي قيادي خواستندتادرموردتعين رئيس جمهورموقت تصميم ګرفته وقت

مناسب رابراي تعيين اعضاي شوراي حل وعقد قيدنمايند وکارخويش رادرهمين جاتوقف دادند .

امابرعکس جانب جمعيت همواره ازدايرشدن شورابه وقت وزمانش سخن رانده واشخاصي راکه تااکنون توانسته است به کابل جمع نمايند آنهارانمايندګان واقعي مردم قلمداد نموده وحق تعين رئيس جمهورواذن فيصله شوراي قيادي به آنهاتعلق داده وتنظيم هاي راکه مخالف باداير شدن شوراي حل وعقد (به شکل فعلي آن) ميباشد، موردانتقاد قرارداده ومتهم به عهدشکني نموده است .

قبل ازآنکه جمعيت به دفاع از خودبه پردازدبه استثناي اتحاد اسلامي (استادسياف) تمام تنظيم هاي جهادي به روش جمعيت درموردبرګزاري شوراي حل وعقد انتقاد نموده وسران جمعيت را متهم به رشوه غرض خريداري افرادبه شوراي متذکره نموده اند وهمه به اتفاق آراء شوراي موجودراغيرقانوني خوانده وممثل ارادهٔ مردم افغانستان نمي دانند .

وهمچنان ازاستادرباني خواسته اندتاقدرت راهرچه زودتربه شوراي قيادي سپرده تاشوراي قيادي درموردتعيين جانشين استادتصميم آغازنمايدودرحاليکه اين شورامدت ماموريت استادرباني راتکميل دانسته وهرنوع مداخله وي رادرامور لشکري وکشوري غيرقانوني ومغاير ارادهٔ تنظيم هاي جهادي مي دانند ولي جمعيت اسلامي ازين امرسرباززد، زيراراه تداوم قدرت براي

جمعيت جزازطريق همين شورابه‌مي نمانده است .

باين تصميم قبلي جمعيت قراراطلاع بنګاه خبري سه شنبه ۸ جدي شوراي حل وعقدبا تدابيرامنيتي شديد درکابل دايرګرديدوبه استثناي استادرباني واستادسياف رهبران هفت تنظيم جهادي ديګردرآن اشتراك نداشتند. وتنظيم هاي متذکره قبلاً مخالفت خويش راباآن ودرچنين شوراي ابرازنموده بودند با آنهم هنوز روشن نيست که آيارهبران تنظيم هاي حرکت اسلامي وحرکت انقلاب اسلامي درشورا که جمعيت مدعي اشتراك آنهااست اشتراك مي نمايندوياخير اګرآنهابه شوري اشتراك ورزند بازهم شوراازاکثريتي که قابل قبول باشد برخورداربرديده نمي تواند چه رسد به قانوني بودن فيصله هاي آن .

درهمين راستاچهارشنبه شب ۹۱ جدي ۱ جناب صبغت الله مجددي درصحبت شان ازطريق راديوبي بي سي شوراي متذکره راقلابي خوانده چنين ابرازنظرنمودند :" اين شورا ازجمعيت رباني وسياف است که به پول خريداري شده وبه هيچ صورت نمايندګي ازمردم ماکرده نمي تواند . بايد قدرت به شوراي قيادي سپرده شود وشوراي قيادي درزمينه تصميم بګيرد ...

طي مصاحبه چندشب قبل آقاي عزيزمراد که قبلاً عضوکميته سياسي اتحاداسلامي سياف بودواکنون سخنګوي استادرباني مي باشد باراديوبي بي سي مبني براينکه آياهمه تنظيم هاي جهادي درين

شورااشتراك دارند ګفت : اعضاي شوراازطرف مردم تعيين ګرديده وارادهٔ مردم مهم است ومسأله تنظيم ها مهم نيست "

اعتراف به اين حقيقت است که شوراي متذکره ممثل ارادهٔ اکثريت مردم افغانستان نمباشد، اين يك حقيقت روشن وانکارناپذيراست که مردم افغانستان مسلمان بوده وشامل تنظيم هاي جهادي مي باشند به عباره ديګرتنظيم هاي جهادي ازتجمع مردم تشکيل يافته است ، پس چطور شده مي تواند که اکثريت تنظيم هاي جهادي يکسره مخالفت نمايندوباوجودآنهم ماآن مسأله راکه فقط مطابق راي ونظرشخص ماباشد مردمي وملي جلوه‌دهيم . به نظر نګارنده اګرامروزتنظيم هاي جهادي اخلاصمندانه براي حل مشکل ګام بردارند مطمئناً که ثبات امنيت ، آرامش، استقلال ،، آزادي ووحدت ملي به آغوش ملت درديده ماباز مي ګردد، واګرتنظيم هاي جهادي نخواهندويامخالف راي آنهاعملي صورت ګيردبه يقين که آتش خانمانسوزجنګ خاموش نخواهد شدوخوشبختي به خانه افغانستاني هاي مظلوم سايه نخواهدافګند.

بناءً روش وطرزکارموجوده رژيم بنام شوراي حل وعقدکه اکثريت مطلق ملت که تنظيم هاي جهادي ازآنهانمايندګي مي نمايدباآن مخالفت دارند بجاي آنکه به منازعات ، کشمکش هاوخونريزي هاپايان بخشد برعکس راه رابسوي ويراني، قتل، برادرکشي ، بي امني وحشت ، ترور واختناق همواري سازد و باتداوم اين وضع نمي توان درانتظارآينده روشن ومطمئن بودبرعکس بايد انتظارخون وآتش خانه خانهٔ افغانهارا خواهدسوخت کشيد.

داهل حل وعقد دقلابي شورا دتشکيل دپيل غوندي ته يونظر

" چي دجاه اوجلال بت ته په سجده باندي تسکوريږي
بي ايمانه راته ښکاري له ايمان سره آشناشه"

زموږدوپارمن جهادپيل او بيابي عروج ته رسيدل اوپه پاي کي يې بري ، زموږدګردمسلمان ولس دسترګوليدلي حال دي. دکفراوالحادپه وړاندي دوسله وال جهاد دتاداوډبره د۱۳۵٤ لمريزکال په

چونګاښ مياشت کي ددواود دطاغوتي نظام په وړاندي هغه مهال کيښودل شوه چي زموږيوشميرمسلمان مبارزين دهغه غيراسلامي نظام په ارتونو (محبسو) کي ديوه نامعلوم مستقبل په تمه شپي ورځي تيرولي اودکمونستي جلادانوپه لاسوبي دتعذيبونوترخه ځکل اوځوك دمسلماني په جرم به سولي ځيږول کيدل اوځينوچي دهغه روس پلوي حکومت له ولکي ته بي نجات موندلي ؤ اسلامي ګاونډيوهيوادوته دهجرت لارخپله کړه ، داهغه مهال ؤچي ډيرتش په نامه علمااوروحانيون چي اوس دبزرګي دعوي کوي لادپيل په غوږکي ويده وو .

رباني چي اوس داسلامي غورځنګ دبشتګري ډېره پرسيته وهي په خپل ايمان کي دومره مټره نه ليده چي له طاغوتي رژيم سره دوغړي وهلو په خاطردعملي جهاد دګرته راودانګي نودانظريه بي راوړاندي کړه چي بايد دفرهنګي مبارزي لاره خپله کړو! خو ددي سرچپه همدادحزب اسلامي مجاهدشاځلميان وو چي دسربښندني دګرته راووتل اوپه رژيم بي پريکنده ګوزارونه وکړل. که څه هم چي ددي عملياتوپه نتيجه کي موږداسي کسانوقرباني ورکړي چي ترننه موږهغه تشه دکه نکړاي شوه؛ خودابوکارموکړاوي شوچي خپل موجوديت اوقوت موثثبيت کړاي شو اورژيم مويه دي ويوهاوه چي دآرام ساه به راته وانخلي .

فدامحمد"فايض"

کله چي د۱۳۵۷ کال دثورپراومه خلقيانواوپرچميانودبوي کودتاپه ترڅ کي دهيوادپرسياست خيته واچوله اوپه دي ضمن کي بي دکمونستي قوانينو داجرالزي هم پيل کړه اوبالاخره خبره دروسانومستقيم تيري ته ورسيده نوجهادهيوادشمول شواوزموږګردمسلمان ولس په دي سخت ازميښت کي برخه واخسته ؛ خوهغه مشران چي اوس داګردي وباړني پرځان پوري تړي بايدهغه چامرهون منت وي چي دوسله وال جهال دتاداوډبره بي ايښي اودوي ته بي دايثاراوقرباني روحيه ورکړي .

زموږپرجهاد يوه نيمه لسيزه ووته ، په دي دوران کي دسري امپراتوري هم ځانته دافغانستان له " ناسور" نه دخلاصون لارلټوله چي به پاي دژنيوترون په نتيجه کي چي د۱۹۸۸ ميلادي کال داپريل پرخوارلسمه دروسيي، امريکا، پاکستان اوکابل دګوډاګي رژيم ترمنځ لاسليك شوپه دي بريالي شوه چي خپلو لښکروته له افغانستان نه دوتلو پلمه پيداکړي .

دروسي لښکروتروتلووروسته دکابل دکمونستي رژيم سقوط حتمي خبره وه ځکه هغه څه چي روسان بي وتلوته اړکړل :
لومړي : نړيوال سياسي فشار
دويم : دافغاني شاځلمو دجهادتشديد .

اودريم دروس داقتصاد دشمزي ماتيدل،وچي روس ددي يوه لپاره هم دتلافي لارنه درلوده اودنجيب حکومت هم يوازي اويوازي دروسانونظامي او اقتصادي مرستوراتينګ کړي ؤ، خوپه داسي يوحالت کي چي دنجيب دحکومت وروستي سلګي وي اوله هغوسره يوازي اويوازي دخپل ژوند سوال مطرح وزرباني صيب ! له کمونستي جنرالانوسره لاس يوکړ اودمختلفو ولو داتلاف معجون بي جوړکړ اودابي وګڼله چي که خيروي

نوجمهوررئيس شوم ، که ګستاخي ونشي نومجددي صاحب خو خپلي ناخبري له ناوړه سياسي برخليك سره مخ کړ ځکه هغه په دي نه ؤ خبرچي رباني له پرچمي جنرالانوسره څه پيټي پاخه کړي اودببرك ، مزدك ، کاوياني ، محمودبريالي

اونوروپرچميانورول پکي څومره دي ، رباني دومره په قدرت پسي مړ چي دي ته بي هم نه کتل چي دمجددي صيب دوه مياشتني دوره پوره شي بلکي تردهغي دمخه بي دهغه پرالوتکه توغندي وروتوغاوه خوخداي بچ کړ اودرباني مخ تورشو .

دپيښوردمعاهدي سره سم ترمجددي صيب وروسته رباني صيب دقدرت پرګدي کيناست اودهغي ليلاته چي په تمه بي توره زيره سپينه کړي وه اوپخپلو جهادونو اوقربانيوبي هم، دبطلان کرښه راکښله ورسيده . ځلورمياشتني دوره بي هم پوره شوه اويوه نيم مياشتني دوره هم خوهغه مهم ماموريت چي رباني ته دقيادي شوراله خوا ورسپارل شوي ؤ داهل حل وعقد دشوراتشکيل ؤچي داشورا به دافغانستان راتلونکي مشرټاکي .

دشورادتشکيل جريان زموږګرانوهيوادوالوته څرګند دی دشورادغړيو داخستلو لپاره ديوسوپه شان توتونه بادشول. داخبره دومره رسوا اومسخره شوه چي که رباني په شرم پوهيداي نوکه چاپه زوره درياست پرکرسي کيناوه هم بايد دپوزي خط بي کښلي وي چي ياره ددومره شرم سره نودارياست خوندنه کوي اوهغه هم بيادبوه داسي ملت رياست چي ترنامه پوري دوښوپه ډنډکي ولاړدي .

خيرآفرين شه درباني سپين سترګي ته بوه غورته بي ليمڅي کيښنود اويل ته بي درنه ځان خپلي اوس وريته ته به بي داهل حل وعقد دشوراد ممبرسني دپريکړو څه

پرواوکړه اونه دجهادي مشرانواوقوماندانانو دخرګندونوچي له يوي خوا موسمي حالات خراب شول اوله بلي خواداشورا داهل حل وعقد شورانه بلکي درباني شوراده چي وروسته پکي سياف صيب هم له پردي سراوبست .

به هرحال رباني اوسياف داځکه وکړه چي دټول ملت دهيلو اوغوښتنو پرخلاف د۱۳۷۱ دجدي په اتمه نېټه داهل حل وعقد قلابي شورادايره کړي . موږخورباني اوسياف ملامتوونه، ځکه هغه ددوي په اصطلاح " چشم عاشق کوراست " رباني دجمهوري رياست دځوکي نمي سپينه ږيري کړ اوسياف صيب دصدارت عظمي، اوس خوبي هغه توندي هم نه ده پاتي چي له پيڅ سپوان سره به بي نه کتل اوويل به بي چي دملل متحد اورګاډي به هله افغانستان ته ولاړشي چي لومړي زمابه ککري تيرشي .

رباني پخپله بيانيه کي چي دپښتولرټيي بي هم ورته وکړ نوموړي شورابوه رښتيني اودملت نماينده شوراوبلله اوضمناً بي پخپلو لويوکارنامو کي دمامورينودمعاش اوکوپون ورکولو اوحاګارتا، پاکستان ايران اوازبکستان ته دپلازمخګي خپله له لويه کارنامه ددي شوراتشکيل وښود . موږرباني

دغسي ليلاخوخدايږدوړ کړه دختونه
تيرونه دګتونه .

رباني په کنايه کي داهم وويل چي زه دحزب اسلامي جګړي توکارته پريښودوه کنه نوږتوږخه به مي هم کړي ؤ دلته دي ديوي لنډي توکي اجازه وي ، وايي چي چادکوم توکي دخره کته پته کړي وه نويه ميدان کي ودريداوبي ويل چي کته راوړي اوکه نوقسه دي چي داسي کاروکړم چي چاکري نه وي خلك وويريدل چي سړي خطرناك دي خدايږده څه به کوي نوهغه چاچي کته وړي وه سمدلاسه بي راوړه چاله توکمارته وپوښتل چي که کته بي نه واي راوړي نوڅه به دي کړي واي ! وبي ويل : څه به مي کړي واي په کورکي مي بله کته ده هغه به مي راوړي واي . مطلب داچي که حزب اسلامي جګړه نه واي کړي رباني صيب به په کوم بل داسي شرم هم ځان شرماوه لکه دااوس بي چي دقلابي شوراپه شره وشرماوه .

درباني صيب ا پسي دسياف صيب دخبرو واوراغي هغه خوځان داسي سپين بازکړ چي که موږنه پيژندلي نودابه موخلاي وي چي دسياف صيب خوله رښتيادهغه دزړه ترجماني کوي .

هغه دشورااوصاف بيان کړل اوپه ځنګ کي بي دي ته هم روايت برابرکړچي که څيني کسان په هغوشرايطوچي شريعت ټاکلي برابرنه وي هم خبردي دواه لري

په افغانستان کي دقيادت اوسني بحران اودهغې اغيزي

-۲- قريب الرحمن "سعيد"

انديښنه کي دي چي که چېري هلته په افغانستان کي دمجاهدخواکونوحکومت ددي دومره ستري بشري اومادي قوي سره په اقتدار راځي نودابه دټولي سيمي په سياست کي دډېرلوي بدلون سبب وګرځي.

همداعلت وه چي دملګروملتونودنږدي سرته رسيدلي پروسي دمختبوي په خاطر دسيمي هيوادونودشمال دترون ترعنوان لاندي يوسازش جوړکړ اودپخواني کمونست رژيم دباقياتوترڅنګ ئې هغوي ته يوجهادي مجوزداحمدشاه مسعودپه شکل کي ورکړ. او په دي ترتيب دملګروملتونوپروژه شنډه اوواکمني بيرته دکمونستانو په لاس کي دلږ څه بدلون وروسته ولويده خوپروګرام داوه چي دمجاهدينو مشران هم ددي سازش يوه برخه وګرزوي، په دي اساس ئې دلته په بېښورکي داپريل په ۲۴ نېټه په يوي لنډي شانته غونډه کي ددوه مياشتواو څلورومياشتوفارمول جوړشو، اوافغانستان دکمونيزم د۱۴ کلني تباه کونکي دوري څخه دتاريخ يونوي پړاوته ورکښېووت اوبين المللي سازش کونکي په دي وتوانيدل ترڅوداافغانستان قيادت دپخواني خواکونوپه پنجوکي داسلامي قيادت ترڅنګ لاندي وساتي. اوپه دي ترتيب هغه ټول وسايل چي دروسي استعمارڅخه دافغانستان نوي قيادت ته پاته کيږي دمجاهدينوپه لاسوکي په مکمله توګه ونه لويږي. دلته دشمال دترون څخه دوه هدفه تصورکيداي شي او هغه داچي دمجاهدينوقيادت په دي سازش کي راګيرکړي اوبيا آهسته آهسته هغوي دواکمني څخه بې برخه کړي، بل داچي په دغي دوران کي به دمجاهدينو محلي قيادتونه دبېسوبېه واخلي، دهغوي جهادي حيثيت به ورختم کړي اوپه نړي کي به دجهادهغه رعب چي دافغان قوم په واسطه پري سوول شوي هغه ورختم کړي، اوهماغه فارمول چي دحکومت دجوړښت له پاره پري ددوي لخوا موافقه شوي وه هماغه به عملي کړي. خوهغه ستونزي چي دشمال ترون ورسره مخ شواوونې نه شوکولاي خپل پلانونه داحمدشاه مسعودپه څېرديوه چالاکه اوزرنګه قوماندان په واسطه عملي کړي، هغه داسلامي حزب دمشرالجنيرحکمتيارددرايت اودسازشونو په خلاف په خپل وخت اقدام ؤ. دابه دتصورڅخه هم لري واي چي که چېري الجنيرحکمتيارپه پوره جرئت اومتانت سره ددي سازشونومقابله نه واي کړي اودخينونورو ضعيف العقيده عناصرو په څېردوخت طوفانونوته تسليم شوي واي نونن به افغانستان څخه دکيوبا دفيډل کاستروحکومت جوړ واي، او دحکومت واګي به هم دجمعيت اسلامي پرځاي دنظار دشورادخومتعصبوستميانوپه واك اواختيارکي واي. ځکه په کابل کي دد فاع دوزارت ترعنوان لاندي يواځي اويواځي دخوستميانوراټولول په خپله ددي خبري سکاره دليل اوثبوت دي.

له بوي خوادحکمتيار مقاومت اوله بله پلوه په کابل کي مسلطو واکمنواوس داخبره ملت ته په ډاګه کړي چي اصل حقيقت څه ؤ. دافغانستان داسلامي دولت لمړي جمهوررئيس پوهاندمجددي په ډاګه دااعلان کړي اووائي چي: داحمدشاه مسعودله لاسه ئې دجمهوري ارګ به دوه کوټوکي دوه مياشتي تيري کړي اوکارته نه دي پري سوول شوي او اوس هغه په دي هم اقرارکوي چي دحکمتيارموقف په حقه دي اوهغه څه چي هغې به تيرو خوارلس کالوکي دمسعود په هکله کړي هغه اشتباه وه.

پوهاند مجددي که هرڅه کړي خوپه تاريخ کي ئې خپل دانوم پرېښودچي خپل دوه مياشتني خواك ئې په خپل وخت بيرته قيادي شوراته په پوره درنښت وسپاره، اوګمان داکيږه چي پوهاندرباني به هم دپوهاند مجددي تاريخ تکرار کړي امامتاسفانه چي داسي ونه شول.

پوهاند رباني چي دپوهاندمجددي څخه خواك اخسته نو دغونډي ديوه شاهدپه خيرهلته موجودوم. پوهاندمجددي په پوره درنښت واکمني دقيادي شوراتاسوغروپه لمن کي ورواچوله اوآيت الله محسني هغه داستادرباني په غاړي کي لکه دنکاح په څېردري خلي تکراراووروواچوله استادرباني هلته عهدوکړچي دڅلورومياشتووروسته به يوه ورځ هم زياته نه تيروي اوپه دي موده کي به ورسپارل شوي دنده چي ديوي متفق عليها شوراجوړښت دي سرته رسوي. پوهاندرباني ونه توانيدداکارپه ورسپارل شو څلورومياشتوکي سرته ورسوي نويوه نيمه مياشت ئې نوروخت وغوښت اوهغه ته ورکړل شو. دغه وروسته موده نورهم دپوهاند رباني اوحکومت له پاره ئې بحراني تمامه شوه، ځکه په دي موده کي هغه اوددفاع وزيردخپلو ائتلافيونو سره په جنجال اخته شو.دکابل ساريتڅه ورځي دکورپه کورجنګ شاهدو. په سلګونو خلك ووژل شول اوياژوبلي وسوځول شول، اوپه دي ترتيب ائتلاف له منځه ولاړ. دپوهاندرباني موده هم د۱۵ ددسمبرووستهپاي ته ورسيده اما متاسفانه چي هغه يوځل بياناکام شو.

پوهاندرباني په دي کلك دي چي بايد خواك دحل وعقدشوراته وسپاري امادااتحادپرته نوراوو تنظيمونه ئې مخالفت کوي، ځکه چي داشورا هغوي يوه قلابي شوراګڼي. اوپخپله دشوراپه نوم راغوستل شوي خلك هم په دي اقرارکوي چي دشوراغړي په بيسواخستل کيري اوديوه غړي بيه اوقيمت ددوه لکوافغانيوڅخه ترديرشولکوافغانيوپوري تاکل شوي وه.

دبلي خوانه دقيادي شوراغړي، دعلماو تنظيم دقوماندانانوتنظيم ټول پوهاندرباني ته وايي چي خواك بايد خپل نايب مولوي صاحب محمدنبي محمدي ته وسپاري ترخوهغه دحل وعقددشوراپاته کارسرته ورسوي. خوپوهاند رباني دي ته هم حاضرنه دي، اوتراوسه پوري په اقتدار پوري نښتي.

داچي پوهاندرباني ولي نه غواړي خواك تسليم کړي خوعوامل لري اوهغه داچي: هغوي ددغه موقتي دوري په وخت کي ديره غلطه اندازه ګيري کړي اودمشهورضرب المثل په مطابق ئې خپلي ټولي هګي په يوي ټوکري کي اېښي، وزارت دفاع ئې خپل ننګ وغيرت تصورکړي اوپه دي پوهيږي چي ټول حيثيت ئې په همدي کي دي چي بايد په واکمني کي پاته شي، که چېري واکمني ئې دلاسه ځي نويبادجمعيت له پاره نه څوسياسي اوټولنيزاونه عسکري حيثيت پاته کيږي ځکه هغوي ددغه شپږومياشتوپه دوران کي ئې ته يواځي ملت ته څه ورنکړاي شول بلکه حالات ئې نورهم وشړيډل، اوس هغوي دخپل خان پسي ټولي دروازي تړلي دي، دبيرته تللوله پاره هيڅ لارنلري اوکه بيرته ځي نويباورته هيڅ په لاس نه ورځي.

په کارخوداوچي دوي هم دپوهاندمجددي اواستادعبدالصبورفريد په څېردخپل خان له پاره دبيرته تللو دروازي پرانستي پري سودي واي.

دهمدغه پورته ذکرشوو دلايلو په رڼاکي اوس پوهاندرباني مجبوردي په خواك کي دپاته کيدوپه خاطردخپل خان له پاره يومجوزپيداکړي او ممکن په دي هکله هغه ته دګاونډيو هيوادونوپه شمول دستروخواکونو له خوا ګرين سيګنل ورکړل شوي وي. ددي محوز په خاطرهغه ته دوه لاري دي، لمړي داچي دحل وعقدپه نوم چي همدا اوس ئې کومه لوبه پيل کړي داسرته ورسوي اوخپل خان په چوکي ورکلك کړي اوبل داچي څه نورتنظيمونه ترغيب اوتحميق کړي.

په لمړي صورت کي خودهغه پروګرام ولوکه په ناکامه شکل هم دي روان دي اوپه دوهم صورت کي دراغلوراپوروتوله مخي هغه دبيرك کارمل دملګرو په واسطه هڅه کوي بيرته دمليشوخواکونواوحزب وحدت سره خپل خان نږدي کړي.

څرنګه چي پوهاندرباني دقيادي شورا رياست هم په غاړه لري اوقيادي شورا په خپل شکل اوصورت موجوده ده نوهغه ونه توانيددقيادي شوراغونډه اوبلي اوکومه پريکړه تري واخلي نوهغه دخپل معاون استادتوانا په واسطه

(۷) مخ

په ژوندکي داسلامي نظام پلي کول

شايق

اسلام يواځي نګلاره ده چي په انساني ژوندکي بې ټوپه اصولي اوهراړخيز انقلاب راووست اودجاهلي افکارو اواخلاقو وولي ئې له بېخه راوويستلي.

اوداپه دي مجردوافکاروپه ورانده يوداسي نظام دي چي دهغه اصول اوسادي به عملي ژوندکي پلي شوي اودهغه په سيوري کي وګړو داوه ژوند تېرکړي.

داپول هرڅه دتاريخ په سينه کي خوندي دي، حالاتواوپيښوددي ګواهي ورکړي ده اودژوندانه په سلاسلوارځونوکي دهغه دعملي تطبيق دېرشهادتونه شنه دي

۱- په عقيدوي وګرکي:

د لااله الاالله کلمه په اصل کي دوګړو به روزنوکي دعقيدي دځاي برخاي کولووسيله ده، اوپه وګړپه نفوسوکي دصحيح انقلاب دراسنخ په کيدواصلي محرك اوعامل دي، اوددي ترځنګ دجاهليت په نورداوزورو کندوکي دبشريت دسقوط څخه دغوريي اوربښتوني دپر سره داَساني غيه ننه ده

دغه کلمه دروښنائي هغه وسيله ده چي بشريت ئې دمنابوله بندګي څخه آزاد کړ، بشريت به بې دشعوراواحساس نعمت وربه برخه کړ اوداسي ورته يه ګوته کړه چي دربوبيت او الوهيت حاکميت اطاعت په خيرصفتونه يوازي يواځې الوحيد خداي (ج) پوري خاص دي به هغدي اساس بندګي او اطاعت يواځي دهغه په کاردي.

لااله الاالله کوم داسي کلمه نه ده چي يوه له کوم مفهوم اومعنی څخه به زبه اوسوبدوواداکړي بلکه داموه داسي کلمه ده چي انساني ژوندته اساسي لوژتيابه بوونه کړي اوهلند دالله (ج) له قوت څخه قسط اوبرخه اخلي اودخپل خداي (ج) سره داړيکو ټينګولو په نتيجه کي ده داواطمينان ثروت ترلاسه کوي، دادايمان دخونداو لذت، اوعقيدوي دادهغه ستردولت اولويه پانګه ده چي يو معمولي عرب دفارس اوروم دامراوپه وړاندي په بشرانلولې سره ودروي اوپه يوره وياړسره يې داسلام خوانه رابولي اودکفر اوشرك دبدوعواقبو څخه يي ډار دي اوداسلام دبه سلوبه صورت کي ورته دحربي ورکولوباجګري کولو اخطارورکوي

وګوري دقادسيې دجګړي پروخت دايران دلښکرپانوسبه سالار رستم خپلو جنګياليوته ووېل:

کله چي دمسلمانانو سره به جګړه کي مخ شوي نوپخوالړدي چي په جګړه لاس پوري کړي بايدنونيل له اهداف څخه خان خبرکړي

مسلمانانودحضرت مغيره بن شعبه (رض) په مشرتابه يوهيئت رستم ته ورولېږه حضرت مغيره بن شعبه (رض) په داسي حال کي چي دغوه ئې اغوستي وه اوتوره يي په لاس کي نيولي وه له خپل آس څخه راکوزشو اوآس ئې له يوي څوکي سره وتاړه اوپه هغوټيب نيه برشوښواوعاليو ناندي چي به خوکيلوسري کي درستم ترڅنګ ناره يوري غورېدلي وو ملي ږدان شو خپله توره يه ئې داسپانه څيرلګوله چي دڅوکي سره به يې ځاي برځاي عالي غوځيدلي بالاخره درستم ترودرياره يوري ورسيداوحت له هغه سره يوځپه کېښناست رستم به غضب شواوامريي وکرچي ئي بايدله تخت څخه کوزکړي شي، خوحضرت مغيره (رض) رستم اوهغه درباريانوته ووېل:

ماسورتيت ستاواحسن خلك ناست ماستاسې به څيرني عقل خلك نه دي ليدلي، موږمسلمانان يوبل ته دغلامي اوخدمت به سترګه نه ګرور، اوستاسي به باب بې هم هنداسي فکرکاوه، غوره خبره داوه چي تاسوتر به سوړکي تحتي وګړي دځښتونوروليناره درب مقام لري.

زه دلته بخپله نه يم راغلي بلکه راغوښتل شوي يم، ماته ستاسو به دي بداخلاقي سره داتابته شوه چي دغه رازبه تاسوحروخت اوبه هرځاي کي ماتي خوري.

بيارستم ورسره خبري پيل کړي لوسري يې دايران دشان اوشوکت په باب وښاوکړه اوبياني حضرت مغيره (رض) ته ووېل تاسوعرب له سختواقتصادي ستونزو سره لاس اوګريوان دي دقحط په کالوکي ماته راغلي دي به خواړواوغلي دانې اوخرماګاني بې دروکړي، ستاسو اميرته بې کجوره وباړلي لباس،

اوزرد رهمه هم ورکړل، خوهغه څه چي تاسوبي جنګ ته هڅولي ئي هغه ستاسو غربت او بې وزلتوب دي، تاسوبوونه بې اوزلارښي ددي لباره چي زه ستاسوديولو وزل نه غوارم

حضرت مغيره (رض) درستم خبري داورېدي اوبياني ورته داسي ووېل:

تاسي رسوودستونزوبه باب کومه يادونه وکړه داواقعيت دي خوبايد په يادولري چي دادخداي (ج) اصول دي چي له ستونزو اوبرويسره ټوکالي ښکري دي

خداي (ج) چي ماته به براخه بيناته کوم نعمتونه ورکړي سره له هغي ناشکري چي نه بې دخداي (ج) به وړاندي کوي بيامو لوي خداي (ج) له هلاکت اوتباهي څخه خوندي ساتلي يي.

الله (ج) سوړنه به حقه پيغمبر (ص) راولېږي چي سودنيکموخوانه رابللي اودبوحداي (ج) به بندګي کې يوساطلوي که نه دانه ستې نوسوړنه څرنه راکړه اوکه نه يوځګړي ته تيارسه دوام لري



محترم ورورعلي اکبرخانه ستاسو سلامونه وعليکم والسلام وايو!

ستاسوليك مولوست اودپوښتني په ځواب کي موليکو. علي اکبر نوم شرعي نوم دي داځکه چي دحضرت علي (رض) هم ديوښي نوم علي اکبر اودبل نوم علي اصغرؤنه دخلکوخوښي پسي مه ګرځه کله ناکله دخنوخلکووسوسي اومشوري سري له کاره وباسي.

##

جهادمينه اونصرت مينه

قدرمن ورور ص. صافي دجهادپوهنتون محصل!

سلامونه دي عليکم والسلام، پخپل وارزموږ سلامونه هم ومنه.

وروره! فکرکوم چي دليك دليکلوپه وخت کي احساساتودرباندي غلبه کړي وي، ځکه معلوميږي چي دليك اکثره برخي دي پرته له دي چي ديوي موضوع په هلکه پوره فکروکړي، ليکلي دي. مثلاً داچي: "دجهادميني اونصرت ميني دتوزيع صلاحيت انجنير رحمت الله احمدزي ته چاورکړي!" ياداچي "حزب اسلامي هم ارزان قيمت (جهادمينه) اودشت سقاوه (نصرت مينه) په خپلو خپلوانوتقسيم کړي" بالګه ته چي وايي په نصرت مينه (شمشتو) کي مجاهدتشه" اوداسي نور.

وروره! اول خوداچي له دي ويري چي څوك دي ونه پيژني اويادرته څه نشي خپل نوم دي نه دي ليکلي اودچاخبره درانده وانګ دي وارکړي چي په هرچاولګيد خيردي.

دويم داچي، دجهادميني اونصرت ميني دتوزيع صلاحيت رښتياهم چي له انجنيررحمت الله احمدزي سره نشته، ولي داحزب دمشرانوفيصله ده چي داځمکه څه دول وويشي اوچاته ورکړه شي، انجنير رحمت الله له هغه څخه څه تيري نشي کولاي، اوياهم بايد په يادولروچي دتوزيع لپاره حتماً اصول اومقررات شته چي دهماغو اصولوپه رڼاکي به انجنيررحمت الله يابل څوك ځمکه توزيع کوي.

بله داچي که له حقيقت څخه سترګي پټي نه کړي نونصرت مينه دمجاهدينوتاتوبي دي اوهلته دمجاهدينواوشهيدانوارامن اوسيږي - دنصرت ميني دتوزيع داصولو لومړي اصل داوچي دابه دشهيدانوکورنيو اوورثه وته توزيع کيږي.

کيداي شي له دي اصولونه څه تيري شوي وي ولي داباند ومتوجي اکثرهمدغوخلکوته توزيع شوي په دويم اودريم قدم کي مامورين په نظرکي نيول شوي اوس هم دهماغه اصل له مخي دنصرت ميني اوسيدونکي په نظرکي نيول شوي، خودادامعتانلري چي نورمجاهدين به پاتي شي. ځکه چي په دي دواړو مينوکي دهرولايت اوهري جبهي مجاهدين اومستحقين هم په نظرکي نيول شوي. چي دمربوطه ولايت اوياجبهي قوماندانان به بې استحقاق تثبيتوي.

هيله ده چي قناعت دي حاصل شي اوکه نه نوبياداحزب دارالانشاء اويا ټاکل شوي کميسيون ته مراجعه وکړه.

##

خوانندهٔ محترم حامدي!

ما بکرات ومرات تاکيد کرده ايم که استعمال ګلم جم براي مردم ولايات شمال کارسخت اشتباه است واينبار بازهم بهمه خوانندګان يادده‌اني مي شودکه تمامي اقشار، طبقات ګروهها وملت هاي افغانستان، افغان اندوهيچيك نسبت بيکديګراکرامي ندارند، مګربه تقوي (اداره)

##

صديق چکري تخلص خودراعوض کند

طوريکه قبلاً يادآورشده بوديم درارتباط مامورين وافراد سرشناس ادارهٔ ائتلافي کابل نامه هاي زيادي به ادارهٔ شهادت ميرسدکه اکثرآنهاګرفتاريهاومصايب اين اداره رابيشتر روشن ميسازد. نامه ذيل که بقلم آقاي م ج ص چکري تحريرشده چنين ميګارد:

کارکنان محترم روزنامهٔ وزين شهادت

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

عزيزان، روزسه شنبه مورخ اول جدي سال ۱۳۷۱ روزنامهٔ شهادت رادرحالي مطالعه کرديم که شامل مضامين دلچسپ وسودمندبودوچيزي که دردلچسپي روزنامه زيادت مي بخشيد عنوان مطالبي به ارتباط وزيراطلاعات وکلتوراداره ائتلافي بود.

حقيقتاً برادرما (ن. راسخ) ازيك برګي ازحقائق سخن ګفته بودوامبدماست که وزيرصاحب ازاوعبرت حاصل نموده خصوصاً از ائتلاف نامقدس توبه ګارشود. چيزي که بنده مي خواهدزيادت کندلين است که وزيرصاحب دراوائل ازجذبات و تقاريراسلامي خودمردم را چنين درخيال الداخته بودکه اګربالفرض والتقديريه چکري صاحب کدام قدرت برسدعملي خواهدکردکه سبب تقويه اسلام ومسلمين شود. خومتأسفانه اين خيال بعد يکه چکري صاحب يك پوست مهم دولتي ګرفت، نقش بر آب شده وبرعکس چکري صاحب ازخدمت مجاهدين به خدمت بقاياي رژيم کمونست سابق پرداخت اميدماازاوابن بودکه رادیوتلويزيون کابل که حيثيت زبان حکومت رادارد، مطابق احکام اسلام شود، ودرپخش ونشردين واتحاد بين صفوف مجاهدين رول عمده را بازي کند بلکه اين چنين نه شد. مګرعملاً ازاحکام اسلام صرف نظرکرده ودرپراګنده نمودن صفوف مجاهدين قهرمان سعي نمودوخشت يك سنګرمخاصم را درمقابل همه مجاهدين متعهدبالخصوص حزب اسلامي افغانستان ګرفت.

وعلاوتاً ازقدرتيکه دراوايل داشت فائده غلط ګرفت ومردم مجاهد منطقه چکري رامتفرق ساخت وبعداً خودش که درقبال مردم جواب نداشت کناره ګيري کرده درلندي خبرنشست.

الله الحمد مجاهدين منطقه چکري ازاوصرف نظرکردند واکثريت شان حمايت خود راازبرادرحزب الله، قوماندان نامورحزب اسلامي وسائرقوماندانان مربوط تنظيم هاي اسلامي اعلام داشتند.

دراخيرماازوزيرصاحب نام نهاد ادارهٔ ائتلافي جدأتقاضامي کنيم که تخلص خودراکه عين نام منطقه دوصد هزارمجاهدمي باشدبدل نمايد، زيرامردم چکري همه مجاهداندوهمه مخالف ائتلاف باکمونست هاوملیشه ها. مردم چکري درپهلوي ديګر هموطنان وساکنان سرزمين افغانستان ۱۴ سال جهادکرده اندوقربانيهاداده اندوجزبه اسلام به چيزديګرراضي نميشوند.

شهادت: اميدواريم آقاي چکري نامهٔ شمارابخوانند وازهواخوري و"چکر" درباغ ائتلاف پشيمان شوند. خداوند يارتان

قرآن راباخلاص وصفاي قلب تلاوت نمائيد

ازپوهنتون اسلامي افغانستان وپوهنځي اصول دين نامه ئي داريم اين نامه را برادرمحمدکبير "کوثري" فرستاده اندو مضمون راتحت عنوان "قرآن پزشك حاذق وماهر" نيزتوام نموده اند.

